# تیتوس ته د پولوس رسول لیک

د کتاب پېژندنه

تیتوس یو غیریهودي مسیحي، تکړه ځوان او پولوس رسول ته وفادار او د باور وړ سړی ؤ. پولوس به ډېر درانه مسوولیتونه د تیتوس په غاړه اچول.

هغه وخت چې تیتوس د کریت د کلیسا مشري کوله، پولوس دا لیک هغه ته ولیکه. په دې لیک کې هغه د تیتوس سره د درې موضوعګانو په هکله خبرې کړې دي: لومړی، پولوس تیتوس ته په کلیسا کې د یو ښه مسیحي مشر د وظیفې او ښه خوی او خصلت د درلودلو په هکله یادونه کوي، ځکه چې ډېرو کریتیانو بد خوی او بد چلند درلود. دوهم، دا چې تیتوس ته نصیحت شوی دی چې څنګه په کلیسا کې مختلفو ډلو یعنې سپینږیرو، زړو ښځو، ځوانانو او غلامانو ته تعلیم ورکړي. سپین سرې ښځې باید ځوانو ښځو ته تعلیم ورکړي. دریم، دا چې پولوس تیتوس ته د مسیحي چلند او په ځانګړې توګه د روغې جوړې، دوستۍ، د نورو د ځورونې او کرکې څخه د ځان ساتنې په هکله نصیحت کوي. همدارنګه په کلیسا کې د شخړو جوړولو او بحثونو او نفاق اچولو څخه د ځان ساتنې په هکله هغه ته نصیحت کوي.

پولوس هغه ته وظیفه ورسپاري چې د هغه ځای مسیحیانو ته ورزده کړي چې څرنګه چې هغوی په عیسی مسیح باندې په ایمان راوړلو سره د ګناه نه ازاد شوي دي، لازمه ده چې دا ازادي د ایماندارانو په ورځني ژوند کې هم ولیدل شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موضوعګانو لست


سلامونه: ۱:۱-۴

د کلیسا مشران: ۱:۵-۱۶

په کلیسا کې د سمې عقیدې په هکله تعلیم ورکول: ۲:۱-۱۶

مسیحیانو ته نصیحت او خبرداری: ۳:۱-۱۱

وروستنۍ خبرې: ۳:۱۲-۱۵




Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ ﴿١﴾ دا لیک د پولوس له خوا چې د خدای خدمتګار او د عیسی مسیح رسول دی، لیکل شوی
دی. زه د دې دپاره ټاکل شوی یم چې د خدای د غوره شویو خلکو ایمان قوي کړم او هغوی ته
تعلیم ورکړم، ترڅو په هغه حقیقت پوه شي چې هغوی ته دا ورزده کوي چې څنګه د دینداری ژوند
وکړي. ﴿٢﴾ دا هغه حقیقت دی چې هغوی ته د تلپاتې ژوندون هیله ورکوي. خدای چې هېڅکله
دروغ نه وایي، د ازل نه دا وعده کړې ده ﴿٣﴾ او هغه دا په ټاکلې وخت کې په خپل کلام کې ښکاره
کړ. دا کار ماته وسپارل شو چې زه د هغه په اړه د خپل خلاصوونکي خدای د حکم اعلان وکړم.
﴿٤﴾ زه دا لیک تیتوس ته لیکم چې زما رښتینی زوی دی او په ایمان کې سره شریک یو. د پلار
خدای او زمونږ د خلاصوونکي عیسی مسیح فضل او سلامتي دې وي په تا باندې.

## په کلیسا کې د مشرانو ټاکل

﴿٥﴾ ته مې د دې دپاره په کریت کې پرېښودلې، ترڅو پاتې کارونه تنظیم کړې او لکه څنګه چې مې
درته لارښوونه کړې ده چې په هر ښار کې د کلیساګانو دپاره مشران وټاکې. ﴿٦﴾ مشران باید
بې‌عیبه وي، یوازې یوه ښځه ولري، اولادونه یې ایمانداران وي او په هغوی باندې دې د بداخلاقۍ او
سرکښۍ تورونه نه وي. ﴿٧﴾ څرنګه چې د کلیسا مشر د خدای د کور مسوول دی، نو هغه باید
بې‌عیبه وي. هغه باید مغرور نه وي، تندخویه، شرابي، جګړه‌مار او د پیسو حرص ورسره نه وي. ﴿٨﴾
هغه باید مېلمه‌پال او خیرخواه وي، په خپل نفس باندې واک ولري، عادل، سپېڅلی، سم او منظم وي.
﴿٩﴾ هغه باید په هغه باوري پیغام باندې چې ورته تعلیم ورکړل شوی دی ټینګ ودرېږي، ترڅو په
خپل رښتیني تعلیم سره وکولای شي نور خلک وهڅوي او څوک چې ورسره مخالفت کوي هغوی
دې په کلکه وغندي.

## بې‌لارې کوونکي ښوونکي

﴿١٠﴾ ځکه چې ډېر داسې خلک شته چې سرکښي کوي، هغوی بېځایه خبرې کوي او خلک غولوي،
په ځانګړې توګه هغه خلک چې په سنتولو باندې ټینګار کوي. ﴿١١﴾ د داسې خلکو خولې باید وتړل
شي، ځکه چې دوی د شرموونکې ګټې د لاسته راوړلو دپاره د هغو شیانو د تعلیم په وسیله چې باید
ورنه کړل شي، د کورنیو ټول غړي تباه کوي. ﴿١٢﴾ د کریتیانو د عالمانو څخه یو عالم وایي: «کریتیان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تل دروغجن، وحشيان، خېټور او تنبلان دي.» ⑬ دا شاهدي رښتيا ده، نو هغوی سخت ورټه ترڅو
په ايمان کې روغ پاتې شي ⑭ او هغوی بايد د يهوديانو زړو کيسو او د هغو خلکو حکمونو ته
غوږ ونه نيسي چې حقيقت يې رد کړی دی. ⑮ د پاکو خلکو دپاره ټول شيان پاک دي، خو د
ناپاکو او بې‌ايمانه خلکو دپاره هېڅ شی پاک نه دی، ځکه چې د هغوی فکرونه او وجدانونه دواړه
ناپاکه دي. ⑯ هغوی دعوه کوي چې مونږ خدای پېژنو، خو په عمل کې هغوی د هغه نه انکار
کوي. هغوی د کرکې وړ او نافرمانه دي او د هېڅ نېک کار کولو وړتيا نه لري.

## په کليسا کې د سمې عقيدې په هکله تعليم ورکول

**۲** ① خو ته هغه تعليم ورکوه چې د سمې عقيدې له مخې وي. ② سپين‌ږيرو ته ووايه چې
هغوی دې هوښيار او عزتمن وي، په خپلو نفسونو باندې واک ولري، په ايمان، مينه، صبر او زغم کې
ټينګ اوسي. ③ همدارنګه سپين سرو ته ووايه چې په خپل چال چلند کې سپېڅلې اوسي، غيبت
دې نه کوي او ډېر شراب دې نه څښي او نورو ته دې د نېکۍ کولو تعليم ورکوي، ④ ترڅو دوی
وکولای شي هغو ځوانو ښځو ته داسې روزنه ورکړي چې د خپلو مېړونو او اولادونو سره مينه
وکړي. ⑤ همدارنګه هغوی دې په خپلو نفسونو باندې واک ولري، پاک لمنې، په خپلو کورونو کې
ښې کارکوونکې وي، مهربانې او د خپلو مېړونو تابعدارې اوسي، ترڅو د خدای کلام بدنام نه شي.

⑥ همدارنګه ځوانان وهڅوه چې اعتدال خوښوونکي اوسي. ⑦ ته بايد داسې نېک کارونه
وکړې چې د نورو دپاره مثال وګرځې او په خپل تعليم کې دې ايمانداري او درښتښت ښکاره کړه.
⑧ داسې سمې خبرې وکړه چې څوک درته ګوته ونه نيسي، ترڅو ستا مخالفين وشرمېږي او د
هغوی سره به زمونږ په هکله د بدو ويلو دپاره کوم څه نه وي.

⑨ غلامانو ته ووايه چې په هر کار کې دې د خپلو بادارانو تابع اوسي او هغوی دې راضي ساتي
او د هغوی سره دې بحث نه کوي. ⑩ د هغوی څخه دې پيسې نه غلا کوي، بلکې خپله ټوله
وفاداري دې وښايي، ترڅو په هره طريقه چې هغوی زمونږ د خلاصوونکي خدای په هکله کوم تعليم
ورکوي هغه په زړه پورې وي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(١١) ځکه چې د خدای فضل د ټولو خلکو د خلاصون دپاره ښکاره شوی دی. (١٢) دا فضل مونږ
ته رازده کوي چې بې‌مذهبي او دنیاوي غوښتنې پرېږدو او په دې دنیا کې د پرهېزګاری، عدالت او
دینداری ژوند وکړو. (١٣) نو مونږ د برکت نه ډکه هیله یعنې د خپل لوی خدای او خلاصوونکي
عیسی مسیح د بېرته راتللو په انتظار یو. (١۴) هغه خپل ځان زمونږ په خاطر قربان کړ، ترڅو مونږ د
هر ډول بدیو نه خلاص کړي او زمونږ څخه د خپل ځان دپاره داسې پاک قوم جوړ کړي چې د نېکو
کارونو شوقیان اوسو.

(١۵) د دې شیانو په هکله تعلیم ورکړه او په پوره واک سره هغوی وهڅوه او اصلاح یې کړه. هېچا
ته اجازه مه ورکوه چې تاته په سپکه سترګه وګوري.

## د مسیحیانو دپاره نصیحت او خبرداری

٣ (١) ایماندارانو ته ور په یاد کړه چې د حاکمانو او د واک د خاوندانو تابعداري او د هغوی
اطاعت دې کوي او د هر نېک کار دپاره دې تیار اوسي. (٢) هغوی ته ووایه چې د هېچا په هکله
دې بد نه وایي او شخړه دې نه کوي، بلکې نرم مزاجه او د ټولو خلکو په وړاندې دې باادبه اوسي.
(٣) ځکه چې مونږ هم یو وخت ناپوهه، نافرمانه، بې‌لارې او د هر ډول نفساني غوښتنو او عیاشیو
غلامان وو او په کینې او بخیلتوب کې مو خپل ژوند کاوه. نورو زمونږ نه کرکه کوله او مونږ د نورو
نه. (۴) خو کله چې زمونږ د خلاصوونکي خدای مهرباني او مینه ښکاره شوه، (۵) هغه مونږ ته
خلاصون راکړ، خو نه د هغو نېکو کارونو له امله چې مونږ کړي وو، بلکې د هغه د رحم په وسیله مو
ترلاسه کړ او روح القدس د وینځلو په وسیله مونږ ته نوی زېږون او نوی ژوند راکړ. (۶) هغه
زمونږ د خلاصوونکي عیسی مسیح په وسیله روح القدس په پرېمانه توګه په مونږ باندې نازل کړ،
(٧) ترڅو د هغه د فضل په وسیله عادل وګڼل شو او د هغې هیلې له مخې چې مونږ یې لرو، د
تلپاتې ژوندون وارثان شو. (٨) دا خبره رښتیا ده.

زه غواړم چې ته په دې باندې ټینګار وکړې، ترڅو هغه خلک چې په خدای باندې ایمان لري، دې
ته پام وکړي چې خپل ځانونه نېکو کارونو ته وقف کړي. دا شیان ډېر ښه او د خلکو دپاره ګټور دي.
(٩) خو د شجرو په هکله د کم‌عقلتوب بحثونو، بې‌اتفاقۍ او د شریعت په اړه د شخړو څخه ځان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وساته، ځکه چې هغه بېګټې او بېارزښته دي. ۱۰ که چېرې يو کس بېاتفاقي ته لمن وهي، نو هغه
ته يوځل يا دوه ځلې خبرداری ورکړه او نور ورسره کار مه لره. ۱۱ ځکه چې ته پوهېږې چې هغه
کس بېلارې شوی دی او د هغه ګناه هغه ملامتوي.

## وروستنی لارښوونې او سلامونه

۱۲ کله چې زه ارتيماس يا تيخيکاس تاته درولېږم، نو ډېر کوښښ وکړه چې زر خپل ځان د
نيکوپوليس ښار ته راورسوې او ماته راشه، ځکه چې ما پرېکړه کړې ده چې ژمی هلته تېر کړم.
۱۳ د زيناس وکيل او اپولوس سره مرسته وکړه چې زر تر زره خپل سفر ته دوام ورکړي او ګوره
چې هغوی کوم شي ته اړتيا ونه لري. ۱۴ زمونږ خلک دې دا زده کړي چې خپل ځانونه نېکو
کارونو ته وقف کړي، ترڅو د خلکو بيړنی اړتياوې پوره کړي او د هغوی ژوند بېګټې نه شي.

۱۵ هغه ټول کسان چې زما سره دي، تاته سلام وايي. هغو کسانو ته هم زما سلامونه ووايه چې
زمونږ سره مينه لري او زمونږ سره په ايمان کې شريک دي. په تاسو ټولو دې د خدای فضل وي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ 807.700.9066 1+
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳

Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.